


## د کتاب مینه والو ته زیرئ

# « افغانستان : د حقیقت لټون »

د افغانستان د سیاسی حالاتو په هکله د مشهور امریکایی لیکوال بروس ریچارډسن خورا مستند کتاب « افغانستان : د حقیقت لټون » له چاپه تازه راوتلی دی. په دې کتاب کی ښاغلی بروس ریچارډسن ډېر ناویل سوي رازونه سپړلي او ډول ډل حقایق یی را بر سېره کړي دي.

دا کتاب چی په انګریزی ژبه دئ ، په ۴۲۳ مخونو کی د افغان رسالې لخوا چاپ سوئ او د بروس ریچارډسن دقیق سیاسی تحلیلونه په بر کی لري . که غواړی چی د افغانستان د تیرو درو لسیزو او تازه پر مختیاوو له داخلی رازونو ، معاملو او د پردې تر شا د ټولو دسیسو په هکله شواهد تر لاسه کړی او دا معما له دننه څخه درک کړئ نو دا کتاب ضرور ولولی.

تاسی کولای سی دا کتاب د افغان رسالې له ادارې نه تر لاسه کړئ

## مژده به علاقه مندان کتاب

# « افغانستان : در جستجوی حقیقت »

کتاب خیلی مستند نویسندهٔ مشهور امریکایی بروس ریچاردسن تحت عنوان « افغانستان : در تلاش حقیقت » که راجع به حالات سیاسی افغانستان بوده ، تازه از چاپ بر امده است . آقای بروس ریچاردسن در این کتاب راز های ناگفته زیادی را فاش و حقایق گوناگون را واضح ساخته است .

این کتاب که به زبان انگلیسی در ۴۲۳ صفحه تدوین شده از طرف افغان رساله بطبع رسیده و دربرگیرندهٔ تحلیل های سیاسی آقای بروس ریچارد سن است.

اگر میخواهید که از رازها ، معاملا ت و همه دسایس پشت پردهٔ انکشافات تازه و در مجموع از سه دهه افغانستان با خبر شوید و راجع به این معما شواهد زیادی از بطن آن حاصل نمایید ، پس حتمأ این کتاب را بخوانید .

شما میتوانید این کتاب را در بدل قیمت از ادارهٔ افغا ن رساله دریافت نمایید

د بروس ریچارډسن د کتاب کره کتنه

## "افغانستان: حقیقت لپاره لټون"

هاري - واشنګټن

د افغانستان د تاریخ او سیاسي تحولاتو د پیاوړی محقق او مبصر، د انګیسي ژبې تکړه لیکوال او ژورنالیسټ، او د افغانانو د رشتین دوست او ملګري، ښاغلي بروس ریچارډسن، نوی کتاب "افغانستان حقیقت لپاره لټون" تر عنوان لاندي په کال ۲۰۰۸ کي په ۴۸۳ مخونو کي خپور سو. لیکوال د خپل کتاب په سر کي لیکي: دا کتاب په کال ۱۹۸۵ کي هغه وخت پیل سو چي په پاکستان کي د شوروي سفیر یو لړ خارجي خبریالان ور وغوښتل او ور ته وې ویل که چیري تاسي افغانستان ته د ترورېستانو (مجاهدینو ) سره یو ځای داخل سئ، تاسي به په اصطلاح د مجاهدینو په شان ووژل سئ. زموږ او زموږ د افغاني دوستانو عسکر به ستاسو سره هغه چال چلند وکي چي د یاغیانو سره یې کوي (۷ مخ) د شورویانو د تجاوز او اشغال په زمانه کي، بروس ریچارډسن څو ځله په پټه او د افغان مجاهدینو سره په ګډه په افغانستان کي دننه اوړده، تلپاته، او یادګاري سفرونه کړي دي. د هغه ملک په تاریخ، کلتور، قومونو، سیاست، او روانو تحولاتو کي یې ژوري څېړني کړي دي. هغه د خپل عمر ډېره برخه د افغاني جامعې په پېژندلو او کشفولو کي تېره کړېده. د افغانستان په باب یې د امریکا په مشهورو مجلو او ورځپاڼو لکه نیویارک ټایمز، نیوز ویک، وال سټریټ ژورنال، واشنګټن پوسټ، شیکاګو ټریبیون او نورو مجلو او جریدو کي د افغانستان د وضعې په باب مهم رپوټونه او مقالې خپرې کړې دي. د هغه بل ځانګړی خصوصیت دا دی چي د افغانستان دننه او بهر د ډېرو افغانانو سره اړیکي او کلتوري همکاری لري. بروس ریچارډسن د افغان امېریکن په ټولنه کي خورا زیات منور او صادق افغانان پېژني او د هغوی سره تماس او علمي راکړه ورکړه لري. د ښاغلي ډاکټر نثار احمد صمد د ژباړو او فرهنګي کوښښونو له برکته د بروس ریچارډسن زیاتره لیکني په پښتو ترجمه سوي دي، او په افغاني مطبوعاتو لکه افغان رساله، آیینه افغانستان، ښوا ، دعوت، هیواد، او سباوون کي خپرې سوي دي. ښاغلی ریچارډسن د باستون په ښکلي ښار کي د خپلي مېرمني سره ژوند کوي. د بروس ریچارډسن بل کتاب" افغانستان او د شوروي د ترورېزم خاتمه" په نامه یادېږي .

د ښاغلي بروس ریچارډسن د کتاب یوه مهمه او محوري موضوع د افغانستان په اوسني تاریخ کي د احمد شاه مسعود او د هغه د ډلي ناروا نقش، ورانونکي سازشونه، او پټي او خطرناکه دسیسې دي. هغه لیکي: د ۱۹۸۰ په لمړیو میاشتو کي،

شورويانو او مسعود موافقه او اوربند سره لاسليک کړ. د دغه ناروا تړون اساسي هدف دا وو چي مسعود به د سالنگ لاره د روسي کاروانونو لپاره امنه ساتي، او په مقابل کي به شورويان د هغه سره مالي مرستي کوي، او هم به هغه مجاهدين بمباري کوي کوم چي د مسعود رقيبان او سيالان دي. ښاغلي ريچارډسن ليکي: سي اي ې او خارجه وزارت د ۱۹۸۰ په کلونو کي د شورويانو او مسعود په معاملو خبر وه، خو سي اي ې بيا هم د هغه سره مالي مرستي کولې. ليکوال د شورويانو او مسعود پر پټو اړيکو باندي ډېر زيات ټينگار کوي. هغه له اول لاس اسنادو، سرى استخباراتي ريپوټونو، او کتابونو څخه معلومات راغونډوي. د مسعود او شورويانو تر مينځ د قرار دادونو څرک لگوي. روسان د سالنگ امنيت غواړي، او مسعود غواړي چي د روسانو د بمباريو په زور خپل قدرت نور هم پراخ کړي. له روسانو څخه نقدي روپۍ تر لاسه کړي. له همدي چېنل څخه د کابل د حکومت سره ارتباط ټينگ کړي. خپله قوه د کورنيو او ورانکونو جگړو لپاره وساتي. احمد شاه مسعود د دريمي نړۍ ټيپيکل جنگسالار او د مسلحو مليشاوو ليډر وو. هغه د هر چا سره معامله کوله .مسعود د مجاهد، کمونيسټ، خاديست، امريکايي، پاکستاني، ايراني، هندي، فرانسوي، او تور او سپين سره معاملې ته چمتو وو. هغه هم د کې جي بې څخه پيسي اخيستي، او هم يې له سي اي ې څخه ډالرجېب ته کول. مسعود او ټول "پنجشيري مافيا" په خارج کي بانکي حسابونه لري. (۲۵مخ) ليکوال وايي: مسعود د شورويانو يو صادق او مطمين ملگرى وو .همدا وجه وه چي کله طالبانو مسعود ته په کابل کي ماتي ورکړه او مسعود د پنجشير په غرونو، تونلونو، او سمڅو کي له ډاره پټ سو. د مسعود مرکز د تاجکستان د کولاب ښار وو. مسعود تر پايه پوري د روسانو سره ډېر نژدې پاتي سو. د شمال د ايتلاف لويه ملي کمزوري همدا روسى او ايرانى کنکشن دى .

څار شم د ليډر تر کولمو خېټه يې د ښکلولو ده ـ
چا مهار چا اوښ وخوړ، او ده واړه کاروان وخوړ
(غني)

د مسعود، پرچميانو، او نورو قومي مليشاوو ايتلاف پخپل ذات او بنسټ کي يو افغاني ضد اتحاد وو. په کال ۱۹۹۲کي، مسعود د ملگرو ملتونو د سولي سياسي تجويز او پلان خراب کړ؛ په زور او د سيسه يې کابل ونيو؛ او تباه کونکي کورني جنگونو ته يې لاره خلاصه کړه. قومي او سمتي اختلافات او تضادونه يې ډېر کړل. هغه په خورا سپين سترگي د ملگرو ملتونو د استازي بينيسيوان د سولي او د قدرت د انتقال پروسه ورانه او تخريب کړه. هغه د خپل ايتلاف د ټولو ملگرو سره جلا جلا او په نوبت جنگونه وکړل. د دوستم سره يې د کابل په ورانولو کي اوږه په اوږه عمل وکړ. د هزارگانو پر خلاف يې له هيڅ ډول وحشت او بربريت څخه ډډه ونه کړه. د حکمتيار د جنگياليو سره يې د کابل ښکلى او زرغون ښار سټ کړ. ددې ادعا ښه ثبوت د کابل کنډواله ښار او ۵۰۰۰۰ شهيدان دي .

ښاغلى ريچارډسن ليکي: د ۱۹۸۰ په کلونو کي سي اي ې مسعود ته پنځه لکه ډالره ددې لپاره ورکړل چي د شورويانو پر مخ د سالنگ ستراتيژيکه لاره و تړلي. په بل عبارت، د شورويانو د اکمالاتو پر مخ د سالنگ لويه لاره نا امنه او خطرناکه کړي . دلته او هلته او وخت نا وخت، پر روسي کاروانونو باندي بريد ښخ کړي. مگر سي اي ې سمدستي خبره سوه چي د شوروي کاروانونه د پخوا په شاني په امن او امان کي کابل -حيرتان ـ شير خان بندر ته خاطر جمع تگ را تگ کوي. کله چي سي اي ې د مسعود څخه پوښتنه کوي چي پيسي خو دي جېب ته کړې مگر ولي د شورويانو پرکاروانونو باندي حملې نه کوې؟ مسعود د پيسو له اخيستلو څخه رډ ناگاره کېږي. حال دا چي د سي اي ې همدا مامور په خپل کتاب کي ليکي چي پيسي يې د مسعود ورور ته په پېښور کي نقدي وکړي وې. (۲۱ مخ)

د طالبانو د رژيم تر سقوط را وروسته، د بوش اداري او د کرزي حکومت زيار باسي چي احمد شاه مسعود ته يو جعلي او رومانتيک شخصيت ورکړي. له مسعود څخه د افغانستان د معاصر تاريخ يو واقعي اتل جوړ کړي. د هغه د لمانځلو او يادولو لپاره مضحک جشنونه او مجلسونه جوړوي. خو تاريخ دا ثابته کړېده چي له جنگسالارانو څخه ملي اتلان نه سي

جوړېدای. له یوه جګړمار څخه سپین چرګ جوړ ول له یوې خوا د ژوندی تاریخ تحریفولو او له بلې خوا په ښکاره درواغو ویلو ته اړتیا لري. که څه هم، د کرزي حکومت دا داوړه کاره وکړل، خو نتیجه یې ور نه کړه. ځکه خلک خپل واقعي او خواخوږي اتلان او مشران خپله پېژني. خو تېل سوي او پردو جوړ کړي کاغذي اتلان نه خوښوي. همدا سبب دی چې د احمد شاه مسعود لپاره د کرزي د حکومت ټولي هلي ځلي ناکامه او رسوا سوې. دا کوښښونه یو ډول ملي ضد رنګ او خوند لري. یو ډول خاصه ګستاخي ده. د کابل حکومت د مشروعیت د کمزورېدو یو اساسي عامل دا وو چې کرزي د جنګسالارانو سره روغه جوړه، سازش، او مصلحت وکړ. د دوستم، فهیم، رباني، سیاف، خلیلي، حضرت علي، او... داسي نورو جناتیکارانو سره د کرزي همدا د نیمي شپې ګناه کاره ناستي پاستي وې چې د حکومت د مشروعیت او قانونیت اډانې یې ور ولړزولې. د دریمي نړۍ ځیني مشران فکر کوي چې دوی کولای سي چې هم ځان او هم جهان وغولوي. مګر حقیقت دا دی چې یوازي ځان غولوي، او ساده ګان په ځان نه پوهېږي.

د بروس ریچارډسن یو ځانګړی خصوصیت دا دی چې هغه د نورو امریکایي او خارجي لیکوالانو، مبصرینو، او ژورنالیستانو پرخلاف د امریکا په ملاتړ د افغانستان په اوسني حکومت کي د پښتنو ونډه ډېره کمه او غیر عادلانه بولي. هغه عقیده لري چې همدې مسلې د کرزي حکومت مشروعیت او قانونیت تر سوال لاندي کړی دی. همدا موضوع د افغانستان د سیاسي بحران یوه لویه او جدي برخه تشکیلوي. بروس ریچارډسن عقیده لري چې د افغانستان په اوسني حکومت کي همدا څرګنده بې انډولي او ظلم د یوه عمدي پلان په اساس سوی دی. ښاغلی بروس ریچارډسن وایي په سي اې ې او نورو استخباراتي موسساتو کي د پښتنو په پرضد یو ډول خاص تعصب او مخکنی منفي قضاوت موجود دی. لیکوال د امریکا په ملاتړ د کرزي په حکومت کي د جنګسالارانو، "پنجشیري مافیا"، د مخدره موادو د قاچاقبرانو، د کي جي بي پخوانیو جاسوسانو، او نورو بد نامو جنګي ډلو فعال او زیاتېدونکی حضور او ونډه غندي. د امریکا پرله پسې او مرګانۍ بمبارۍ، ډارونکي محبسونه، د ابو غریب، ګوانتانامو، بګرام او کندهار د محبسونو رسوایي، او د امریکایي عسکرو مغروره چال چلند غندي. هغه لیکي: یو اساسي قانون چې عملي نه سي، د هغه اساسي قانون ګټه څه ده؟ لیکوال د امریکا په ملاتړ د کرزي په حکومت کي د پښتنو سپکه ونډه او قومي بې انډولي ته هر ځای ګوته نیسي. (۳۲۱ مخ)

لیکوال لیکي: پښتانه د طالبانو او القاعده سره یو ګڼل د بوش د اداري پالیسي ده. اکثره طالبان پښتانه دي، خو ټول پښتانه طالبان ندي. پدې تېرو اوو کالو کي، پښتني سیمي د جنګونو ګرم میدانونه ګرځېدلي دي. د ۲۰۰۱ کال د اشغال د لمړۍ ورځي څخه را پدې خوا، په واشنګټن کي د پښتنو پر خلاف احساسات راپرېدلي وه. د پښتنو پر خلاف ددغو منفي احساساتو یو اساسی عامل دا وو چې طالبانو د القاعدې لوی او ښکاره قاتل اسامه بن لادن ته پخپل توره او لغوړنه لمن کي ځای ورکړی وو. پدې سیمو کي یوه دایمي ناکراري او بې امني حاکمه ده. پښتانه د امریکا په ملاتړ د کرزي د حکومت څخه نا راضه او بېزاره دي. په اکثرو پښتني سیموکي حکومت خپل ټول اعتبار او قدرت له لاسه ورکړی دی. پراخي سیمي د مرکزي حکومت تر ولکې وتلي دي. امنیت خراب دی .اقتصاد کمزوری او په ټپه ولاړ دی .

په متحده ایالاتو کي د سپټمبر د تروریستي حملو څخه پس، د بوش حکومت له طالبانو څخه د اسامه بن لادن توقیفول او یا له افغانستان څخه ددغه نړیوال قاتل اوجاني اخراجول و غوښتل. مګر ملا عمر ، البته د اې ایس اې په لمسون،د اسامه بن لادن پر ساتلو ټینګار وکی. ملا عمر فکر کاوه چې امریکا هم ښایي د ګاونډي کلي یو ګوډ او ړوند ملا وي. دوه یا درې ټانکه ،څو پمن عسکر، او څه کالداري ، یا تومن او یا هم څه ډالر ه به لري. اې ایس اې ملا عمر ته د کلنټن د اداري هغه بریدونه ور په یادول چې د مانیکا لوینسکي د محکمې د فیصلې د صادرېدو څخه یې فقط څو ساعته مخکي د بن لادن پر اډو باندی وکړل. نوي اسناد او شواهد ښیي چې اې ایس اې ملاعمر تشویقاوه چې یاره روحیات مه بایله. مړه ملا ! مه وار خطا کېږه. ته امیرالمومنین یې. څه ځان ټینګه که. دا ټول د امریکا لاپې شاپې دي. امریکا او افغانستان ډېر سره لیري دي. امریکا فقط هوایي ډزي کوي او ښایي څه بمبارۍ هم وکي ، خو واپس بېرته ځي. ساده ملا عمر د اې ایس اې همدې غوړو

خبرو و غولوی. خو د بې ۵۲ هيبتناکه او دروند ږغ ملا عمر اخوند تېښتي او تاختي ته اړ ايستی. غريب په ژوندون ژوندی ژړاندي ورک سو. او اوس په دوربين کي هم نه پيدا کېږي .

د ښاغلي بروس ريچاړډ سن يوه ځانګړې خصيصه دا ده چي اول لاس اسناد، تاريخي مدارک، او مواد پيدا کوي. د جاسوسانو، ډپلوماتانو، په قضيه کي د دخيلو خلکو سره يې په له مرکو څخه زياد مواد را غونډوي. ښاغلي ريچاړډسن د کې جي بې په اسنادو کي، د روسي جنرالانو او عسکرو په خاطراتو او مرکو کي، او د سي اې ې په مخابرو او رپوټونو کي د مسعود د معاملو، سازشونو، او تړونونو پل پسې راخيستی دی. هغه ليکي: د شوروی اتحاد پخواني جمهوررييس ګوربچوف د بې بې سي سره په يوې مرکې کي وويل: هو، مسعود زموږ سړی وو. موږ د هغه سره ډېري معاهدې او تړونونه لاسليک کړي دي. هغه د سالنګ لاره زموږ لپاره امنه کړې وه، او نه يې پرېښودل چي څوک پر موږ باندي هلته بريد وکړي ) .
۱۷مخ)

ښاغلي بروس ريچاړډسن له افغانانو سره رښتينه مينه، علاقه، او خواخوږي لري. د هغوی په بې وزليو، ستونزو، او چلنچونو باندي پوره واقف دی. بروس ريچاړډسن په خپلو ليکونو او کتابونو کي د افغانانو ننګه کوي. د جمهوررييس بوش پر تباه کونکو پاليسو باندي انتقاد کوي. بروس ريچاړډسن پر افغانانو باندي احسان کړی دی، او موږ يې دا احسان منو. هغه د افغانانو ږغ تر ډېرو ځايونو پوري رسولی دی. هغه د افغانانو مظلوميت، قرباني، او کړاونه ياد کړيدي. هغه د افغانانو يو واقعي او ښه دوست دی . د افغانانو په درد خوږمن دی. په افغانستان کي د جنګ او ورانۍ مخالف دی. د سولي او ثبات پلوي کوي. د برابر او عادلانه سياسي وېش پلوي کوي. او لنډه دا چي د شمال د ايتلاف د ډانګيانو، د مسعود د باند او مافيا، او د امريکا په ملاتړ د ټولو جګړمارانو مخالف دی .

( په تکليف کښې د يو دوست تکړه آواز_____دی له ټولو خوږ له واړو ښکلی ساز "غني" )

والسلام